هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۳۰) ماه صفرالمظفر ۱٤٤۸ هـ ق. مطابق ماه اسد ۱٤۰۵ هـ. ش

علم زده کړه؛ ځکه همدا نن‌ې هغه ستا د سبا ورځې برخلیک ټاکي.

# برگزاری برنامه علمی نظر خواهی در رابطه به مسوده کتب درسی تعلیمات عمومی



ریاست عمومی نصاب و انکشاف مسلکی وزارت معارف، برنامه علمی شش‌روزه جمع آوری نظریات به منظور ارزیابی و تقویت محتوای مسوده کتب درسی ساینس و ریاضی صنوف هفتم الی نهم تعلیمات عمومی را با حضور رهبری وزارت معارف، مسؤلین ریاست عمومی نصاب تعلیمی و انکشاف مسلکی معلمین، مؤلفان مرکز ساینس، شخصیت‌های علمی استادان پوهنتون‌های کابل، تعلیم و تربیه و نمایندگان اکادمی علوم برگزار کرد.

در آغاز برنامه، محترم مفتی محمدحنیف شاکر رئیس نصاب تعلیمی وزارت معارف، پیرامون اهمیت و نقش نصاب تعلیمی صحبت نموده، نصاب تعلیمی را ستون فقرات نظام آموزشی دانسته و از همه متخصصین و نخبه گان علمی خواست تا نظریات علمی و مسلکی خویش را در راستای تقویت و غنامندی هرچه بیشتر ابعاد علمی مسوده یاد شده با وزارت معارف شریک سازند.

سپس، محترم شیخ عبدالمالک حقانی، معین تعلیم و تربیه وزارت معارف در سخنرانی خویش بر ضرورت تغییر، اصلاح و انکشاف نصاب تعلیمی تأکید کرد که نصاب تعلیمی باید هر دو بُعد تعلیمات دینی و ساینسی را به گونه متوازن در بر گیرد تا شاگردان در پرتوعلوم دینی و ساینس، زمینه اصلاح و پیشرفت جامعه را فراهم سازند.

موصوف افزود: هدف اساسی نصاب تعلیمی، تقدیم نسل های متعهد، دیندار، با استعداد و مسئول به جامعه است؛ نسل هایی که بتوانند در راستای پیشرفت ملک و رفاه جامعه نقش مؤثر و سازنده ایفا نمایند.

در همین حال شماری از شخصیت های علمی، استادان و مسئولین نیز در سخنرانی های شان، برگزاری چنین برنامه‌های ...

ص ۲

## د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین بلخ ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق د یو پلاوي په ملتیا بلخ ولایت ته ورسېد.

نوموړي د دې سفر په ترڅ کې د بلخ ولایت له پوهنې رئیس محترم مفتي محمدشریف عثماني سره وکتل او د خپل سفر موخه یې د پوهنې ریاست د اداري او تدریسي چارو څارنه او ارزونه وبلله.

همدارنګه، د یاد ولایت پوهنې رئیس پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او له هغوی سره یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ترخګند کړ.




## دیدار معین تعلیمات اسلامی با معین مسلکی وزارت ارشاد حج و اوقاف

محترم الحاج مولوی کرامت الله آخند زاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف با محترم الحاج مولوی حافظ محمد حامد حسیب، معین مسلکی وزارت ارشاد، حج و اوقاف دیدار وگفتگو کرد.

در این دیدار معین محترم وزارت معارف تشریف آوری هیئت را خیرمقدم گفته متعاقبا ضمن تشریک مساعی و فراهم آوری سهولت های آموزشی قاری صاحبان آن وزارت، روی همکاری های متقابل و دوامدار وزارت های معارف و حج و اوقاف تأکید صورت گرفت.

## آغاز کار چهار پروژه انکشافی به ارزش بیش از ۹ میلیون افغانی در مکاتب جوزجان

مسئولان ریاست معارف ولایت جوزجان از آغاز کار چهار پروژه انکشافی به ارزش بیش از ۹ میلیون افغانی در شماری از مکاتب این ولایت خبر می دهند.

محترم الحاج مولوی لعل‌جان راشد رئیس معارف ولایت جوزجان، گفت که این پروژه ها با هزینه مجموعه ۹ میلیون و ۱۳۰ هزار افغانی، با همکاری یک نهاد همکار اجرا می‌شود.

به گفته وی، این پروژه‌ها شامل اعمار و ترمیم صنوف درسی، ساخت دیوارهای احاطوی، نصب دروازه‌های معیاری، حفر چاه آب همراه با ذخیره آب، سیستم سولری و دستگاه تصفیه آب، ایجاد میدان ورزشی اطفال و ترمیم تأسیسات مکاتب است.

وی افزود، در مکتب متوسطه کمک منصور ولسوالی آقچه، تعمیر شش‌صنفی همراه با دو اتاق اداری، مبرز ۱۰ غرفه‌ای، دیوار احاطوی، یک حلقه چاه آب با ذخیره آب، سیستم سولری، دستگاه تصفیه آب و میدان ورزشی اطفال اعمار می‌شود.

وی همچنان گفت، که اعمار دیوار احاطوی و دروازه‌های عمومی و انفرادی مکتب متوسطه چوباش کلان شهر شبرغان، ترمیم تعمیر و مبرز مکتب متوسطه خاتون‌قلعه و حفر یک حلقه چاه آب همراه با ذخیره آب، سیستم سولری، دستگاه تصفیه آب در مکتب ابتدائیه احمدشاه ابدالی نیز شامل این پروژه‌ها است.

در همین حال، الحاج مولوی عبدالله سرحدی، والی جوزجان...

ص ۲

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد د ریاست د تېرې اوونۍ فعالیتونه

د پوهنې وزارت دعوت او ارشاد ریاست خپلو دیني، روزنيزو او ځانګړو فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه د تېرې اوونۍ په ترڅ کې یو شمېر مهم اقدامات ترسره کړي چې دغه فعالیتونه په لړ کې، د کابل ښار په دویمه، پنځمه، شپږمه، اوومه، اتمه، لسمه، دولسمه او شپاړسمه تعلیمي حوزو کې د نویو آمرینو د پېژندګلوۍ غونډې ترسره او د ذکر شویو تعلیمي حوزو له مسئولینو سره د خبرو په ترڅ کې د دعوت او ارشاد د چارو تطبیق، نظم او ډسپلین، ښوونیز چاپېریال اخلاقي وضعیت او د سیرت او صورت اروند موارد وارزول شول او د چارو لا ښه والي لپاره لازمې لارښوونې وړاندې شوې.

دغه راز په همدې اوونۍ ...

۲مخ

## در این شماره

۲مخ — د څلورنیم میاشتنیو آزموینو پای؛ د هڅو او بریاوو نوی پیل
۳مخ — د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت د ۱۴۰۵ هـ ل کال د لومړۍ ربعې راپور
۴مخ — نیک ملګری د الله جل جلاله نعمت دی

سرلیکنه

## د څلورنیم میاشتنیو آزموینو پای د هڅو او بریاوو نوی پیل

بسم‌الله الرحمن الرحیم
اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

د علم او پوهې په سپېڅلي سفر کې هر پړاو خپل ځانګړی ارزښت لري، د څلورنیم میاشتنیو آزموینو پای ته رسېدل هغه شیبه ده چې د زحمتونو ثمره پکې راڅرګندیږي او د راتلونکي لپاره نوې هیلې راټوکیږي. دا آزموینې د طُلاب العلم او زده کوونکو د هڅو، زغم او زحمتونو د روښانه انځور په څېر دی؛ هغه انځور چې د هر طالب العلم او زده کوونکي د راتلونکي مسیر ټاکي او هغوی د خپلو موخو او هدفونو پر لور رهبري کوي. طُلاب العلم او زده کوونکي باید پوه شي چې آزموینه د ځان پېژندني او پرمختګ یو مهم فرصت دی. دا هغه هنداره ده چې انسان ته خپلې وړتیاوې او د ضعف ټکي ورښیي.

بریالي انسانان هغه دي چې له هرې ښې او بدې پایلې درس اخلي، خپلې نیمګړتیاوې سمې او د لا بریا لپاره نوې اراده پیاوړې او خپلې موخې وټاکي. په مدرسو او ښوونځیو کې همدا آزموینې دي چې له نني طالب العلم او زده کوونکي څخه د سبا ورځې عالم، ډاکټر، انجنیر او د ملک خدمتګار جوړوي. همدارنګه د زده کړې په لار کې د مدرسینو او استادانو مقام ډېر لوړ او مسئولیت یې درونډ دی.

هغوی د علم په دې سفر کې هغو څراغونو ته ورته دي چې تیارو ته رڼا وربخښي او د ناپوهۍ پر وړاندې د پوهې مورچل ټینګوي. د آزموینو پر مهال د هغوی عدالت، صداقت او ژمنتیا د دې لامل ګرځي چې هر طالب العلم او زده کوونکی د خپل استعداد سره سم وارزول شي.

یو مخلص مدرس او ښوونکی استعدادونه روزي، فکرونه روښانه کوي او راتلونکی نسل تربیه کوي. له همدې امله، د مدرسینو او ښوونکو هڅې زموږ د پوهنیز نظام پیاوړی او ځواکمن بنسټ ګڼل کیږي. د پوهنې وزارت ژمن دی چې د زده کړې کیفیت لا نور هم لوړ کړي او ټولو طُلاب العلم او زده کوونکو ته په معیاري، خوندي او اغېزمن ښوونیز چاپېریال کې د زده کړې زمینه برابره کړي.

د درسي نصاب پیاوړتیا، د ښوونیزو نظام وده او پرمختګ، د آزموینو شفافیت او مدرسینو او ښوونکو مسلکي ودې ته پاملرنه هغه هڅې دي چې د یو پیاوړي او باکیفیته پوهنیز نظام د جوړولو لپاره په دوامداره توګه د پوهنې وزارت له لوري ترسره کیږي. د پوهنې وزارت ته څرګنده ده چې د علم او پوهې ځواک کولای شي چې یو پرمختللی، باثباته او پرځان بسیا افغانستان ولرو چې همدې موخې ته د رسېدو لپاره شپه او ورځ هڅې روانې دي. نو د څلورنیم میاشتنیو آزموینې پای ته رسېدل او تر لنډې رخصتۍ بېرته مدرسو او ښوونځیوته تګ باید د نوې هڅې او ټینګې ارادې پیل وبلل شي. دا وخت دی چې طُلاب العلم او زده کوونکي له خپلو تېرو تجربو زده کړې، خپلې موخې لوړې کړي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره خپله اراده او هڅه لا ټینګه کړي.

د پوهنې وزارت یو ځل بیا د ملک ټولو طُلاب العلم او زده کوونکو ته ډاډ ورکوي چې د علم او پوهې د ودې او د ښوونیز نظام د پیاوړتیا او ځواکمنتیا لپاره به خپلې هڅې لا ګړندۍ ساتي.

راځئ چې ټول په ګډه د علم دا سپېڅلی سفر روان وساتو، څو د پوهې په رڼا کې خپل ملک د پرمختګ، سوکالۍ او ځان بسیاینې لوړو پوړیو ته ورسوو.

ان شاءالله

# د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت د ۱۴۰۵ هـ ل کال د لومړۍ ربعې راپور

۱- د ۱۴۰۵ هـ ش کال د لومړۍ ربعې تر پایه پورې د سروې سیمو په کچه د شرایطو وړ ۱۱۰۳ تنه هلکان د نویو راستنېدونکو ماشومانو په ګډون اړوندو ښوونیزو مرکزونو کې شامل او د زده کړې له بهیر سره یو ځای شوي دي.

۲- د ۱۴۰۵ کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ملک په ټولو ولایتونو، مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو کې ګڼ شمېر طالبان جذب او شامل شوي دي، د منظور شوو لاربښوونو له مخې د طُلاب العلم، حافظانو او نورو زده کوونکو د فعالې زده کړې او ګډون کچه په لوړېدو ده.

۳- د ۱۴۰۵ کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د کابل ښار په ګډون د ملک په ۳۴ ولایتونو کې له ۳۵۶۵ تنو حافظانو څخه آزموینه اخیستل شوې ده.

۴- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې ټولټال ۱۵۲۷ د خامسې دورې فراغت سندونه چاپ او د وېش لپاره چمتو شوي دي.

۵- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې یونیفورم د ملک ټولو ولایتونو په مدرسو، دارالحفاظونو او دارالعلومونو کې د عملي شوی.

۶- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې د بېلابېلو دارالعلومونو د ۶۲ تنو استاذانو او مدرسینو د مسلکي ودې د ۷۴ تنو غړو ګومارنې اسناد له ولایتونو څخه تر لاسه، طی مراحل او اړوند بستونو کې مقرر شوي دي.

۷- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې ټولټال ۱۴۶۰ تنه استاذان د اړتیاوو پر بنسټ له یوه ولایت څخه بل ولایت ته او یا له یوې مدرسې څخه بلې مدرسې ته د متقابلې تبادلې (بالمعاوضه) له لارې تبدیل شوي دي. همدارنګه، د روان کال په ترڅ کې د کابل ښار په ګډون د ملک په ټولو ولایتونو کې ۳۵۳۴ تنه د اړتیا وړ بستونو کې مقرر شوي دي.

۸- د ۱۴۰۵هـ ل کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې، د معلوماتي تکنالوژۍ ریاست د کارکوونکو له لوري د پوښتنو بانک متخصصینو ته روزنیز سیمینار ترسره شوی دی.

۹- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ټاکل شوي هیئت له لوري ټولټال ۲۱۰ معیاري پوښتنې ترتیب او چمتو شوې دي.

۱۰- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې په مرکز او ولایتونو کې د علمای کرامو د سوېې د تثبیت د نوم لیکنې بهیر روان دی او ټاکل شوې ده چې آزموینه یې د کال په دویمه ربع کې واخیستل شي.

۱۱- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې د ثانویه ( دولسم ټولګي) د ۸۶۶ تنو او د مافوق الثانویه (څوارلسم ټولګي) د ۱۹۰ تنو علماء‌کرامو اسناد ارزول شوي.

۱۲- د ۱۴۰۵ مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې ټولټال ۴۴۷ تنه حافظان د سوېې د تثبیت په آزموینه کې بریالي شوي او د هغوی اړوند مکتوبونه هم د لازمو اجراآتو لپاره اړوندو مراجعو ته لېږل شوي دي.

۱۳- د ۱۴۰۵ هـ ل د لومړۍ ربعې په بهیر کې په لوګر، خوست، بدخشان او زابل ولایتونو کې ټولټال ۴ بابه الحاقي ټولګي جوړ شوي دي.

۱۴- د ۱۴۰۵هـ ل مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې ټولټال ۵ بابه خصوصي مدرسې جوړې شوي چې له دې جملې څخه ۳ بابه په مرکز او ۲ بابه په ولایتونو کې تأسیس شوې دي.

۱۵- د ۱۴۰۵هـ ل مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې د امیر المؤمنین حفظه الله تعالی د عالي حکم پر بنسټ د روان کال د ورې په میاشت کې د ملک په ۱۳ ولایتونو لوګر، ننګرهار، پنجشیر، کونړ، نورستان، تخار، بدخشان، کندز، غور، جوزجان، فاریاب، هلمند او کندهار کې د اړوندو ولسوالیو لپاره د ۵۳ بابو مبیت لرونکو مدرسو د ثبت په موخه لازم اقدامات تر سره شوي دي.

۱۶- د ۱۴۰۵هـ ل مالي کال د لومړي ربعې په بهیر کې د ملک په ۱۹ ولایتونو کندهار، هلمند، پکتیکا، بادغیس، غور، سرپل، ارزګان، نیمروز، کاپیسا...

۳ مخ

## برگزاری مسابقهٔ علمی و کتاب‌خوانی میان شاگردان مکاتب معارف ولسوالی انجیل هرات

ریاست معارف ولایت هرات با همکاری یک نهاد علمی، تحقیقاتی و نشراتی مسابقهٔ علمی و کتاب‌خوانی را با اشتراک ۲۰۰ تن از شاگردان مکاتب معارف ولسوالی انجیل، در لیسهٔ پسرانهٔ جمعیت برگزار نمود.

محترم مولوی عبدالجلیل مزمل آمر معارف ولسوالی انجیل، ضمن قدردانی از برگزاری این برنامه، بر اهمیت ترویج فرهنگ مطالعه، ارتقای سطح علمی شاگردان و تشویق آنان به کتاب‌خوانی تأکید کرد. وی هم‌چنان بر گزاری چنین برنامه‌هایي را در رشد استعدادها و افزایش انگیزهٔ آموزشی شاگردان مؤثر دانست.

گفتنی است که نتایج این مسابقه به‌زودی اعلام خواهد شد و برای شاگردان برتر، جوایز در نظر گرفته شده است.

**برگزاری برنامه علمی نظر خواهی در...**

علمی را در زمینه تدوین، تقویت و انکشاف نصاب تعلیمی، مهم و ارزشمند عنوان کردند.

این برنامه علمی شش‌روزه، افزون بر ارزیابی محتوا، ساختار و معیارهای علمی مسوده کتاب‌های درسی ساینس و ریاضی، با گردآوری نظریات سازنده متخصصین و نهادهای ذیربط، نقش مهمی در غنامندی و معیاری‌سازی هرچه بیشتر این کتاب‌ها ایفا خواهد کرد. این نشست با سخنان کوتاه علمی محترم غلام ربی ربانی، رئیس نظارت و ارزیابی وزارت معارف به پایان رسید.

**د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست...**

کې د دعوت او ارشاد ریاست پلاوي فراه، کندهار او ارزګان ولایتونو ته رسمي سفرونه وکړل او په یادو ولایتونو کې یې د دعوت او ارشاد چارې وارزولې او ورسره یې نوي آمرین هم معرفي کړل. په ورته وخت کې د پوهنې وزارت د مرکزي ادارو د یو شمېر کارکوونکو سیرت او صورت هم وارزول شو او هغوی ته د دیني او وظیفوي مسئولیتونو په اړه اړینې سپارښتنې وشوې. همدارنګه د ولایتونو د دعوت او ارشاد ادارو، د ولسوالیو پوهنې آمریتونو، امارتي او خصوصي مدارسو، ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو کې د دعوت او ارشاد نصاب تدریسي بهیر په منظم ډول دوام درلود.

د یادونې وړ ده چې د دعوت او ارشاد ریاست د سالم، منظم او اغېزمن ښوونیز چاپېریال رامنځته کولو، د دیني او اخلاقي ارزښتونو د پیاوړتیا او د تعلیمي چارو لا ښه تنظیم لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

**آغاز کار چهار پروژه انکشافی به ارزش ...**

سرمایه‌گذاری در بخش معارف را سرمایه‌گذاری برای آینده کشور خواند و گفت که اجرای این پروژه‌ها زمینه دسترسی شاگردان به محیط آموزشی مصئون، معیاری و مناسب را فراهم کرده و در ارتقای کیفیت آموزش نقش مهمی خواهد داشت. وی از همکاری نهادهای همکار نیز قدردانی کرد و ابراز امیدواری نمود که با ادامه این همکاری‌ها، مشکلات زیربنایي مکاتب در نقاط مختلف ولایت جوزجان بیش از پیش برطرف شود. بدالله، یکی از باشندگان قریه کمک منصور ولسوالی آقچه، گفت که شاگردان این مکتب در سال‌های گذشته به دلیل نبود تعمیر معیاری با مشکلات فراوان آموزشی روبه‌رو بودند.

او افزود: اکنون خوشحال هستیم که برای مکتب ما تعمیر معیاری ساخته می‌شود و فرزندان ما در فضای مناسب به آموزش خود ادامه خواهند داد. قابل ذکر است که با تکمیل شدن این پروژه‌ها، بیش از یک‌هزار و ۵۰۰ شاگرد از امکانات و خدمات بهتر آموزشی بهره‌مند خواهند شد.

**د اسلامي زده‌کړو معین له یو شمېر ...**

لپاره هڅې وشي. وروسته یو شمېر قاریانو او مجویدینو د غونډې د موضوع په تړاو خپل نظرونه وړاندې او د اسلامي زده‌کړو معینیت له دغې پرېکړې یې هرکلی وکړ.

په ورته وخت کې د غونډې ګډونوالو ته د تخصصي تجوید لارښود او نصاب ووېشل شو او له هغوی څخه وغوښتل شول چې د دغه لارښود لا بډاینې په موخه خپل وړاندیزونه شریک کړي.

# نیک ملګری د الله جل جلاله نعمت دی

نیک او رښتینی ملګری د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه یو نعمت دی. انسان په ژوند کې له ډېرو خلکو سره مخامخ کېږي، خو هر څوک رښتینی ملګری نه شي کېدای. ښه ملګری هغه څوک دی چې د خوشحالۍ او غم دواړو په وخت کې د انسان تر څنګ ولاړ وي، مرسته ورسره وکړي او د ژوند په سختو حالاتو کې ورته ډاډ او حوصله ورکړي. د ښه ملګري ملګرتیا د انسان زړه ته سکون وربښي او ژوند ته خوښي ور اضافه کوي.

ښه ملګری انسان د نېکو کارونو، ښو اخلاقو او بریا لور ته بیايي. هغه تل خپل ملګري ته سمه مشوره ورکوي، د بدو کارونو څخه یې منع کوي او د حق او صداقت لار ورښيي. انسان د خپل ملګري له اخلاقو او کړنو اغېز اخلي، ځکه نو اسلام د ښه ملګري په انتخاب ډېر ټينګار کړی دی. که ملګری نېک او بااخلاقه وي، انسان هم د نېکۍ خوا ته مایل کېږي، خو که ملګری بد وي، انسان په غلطو لارو روانېږي.

نېک ملګری د ورور په شان وي. هغه راز ساتي، وفاداري کوي او د ملګرتیا حق ادا کوي. کله چې انسان له ستونزو، غمونو او ناکامیو سره مخ شي، رښتینی ملګری یې یوازې نه پرېږدي، بلکې مرسته ورسره کوي او امید ورکوي. همدارنګه، ښه ملګرتیا د مینې، احترام، یووالي او باور فضا رامنځته کوي، چې د انسان د خوشحال ژوند سبب ګرځي.

بد ملګری د انسان لپاره ډېر زیان لري. هغه انسان غلطو کارونو، بدو عادتونو او ناکامۍ ته بیايي. ډېر خلک د بدو ملګرو له امله له زده کړو، اخلاقو او حتی دين څخه لرې شوي دي. له همدې امله هر انسان باید د ملګرو په انتخاب کې احتیاط وکړي او له نېکو خلکو سره ناسته او ولاړه وکړي.

حضرت محمد ﷺ هم د ښه ملګري مثال د عطرو له پلورونکي سره ورکړی دی، چې انسان ته ترې خوشبويي او ګټه رسېږي. دا مثال موږ ته ښيي چې د نېکو خلکو ملګرتیا انسان ته خیر، برکت او نېک اخلاق وربخښي. برعکس، د بدو خلکو ملګرتیا انسان ته زیان رسوي او د ژوند ارامي له منځه وړي.

په پای کې ویلای شو چې نېک ملګری د ژوند تر ټولو ښکلې سرمایه او د الله تعالی ستر نعمت دی. څوک چې ښه، صادق او وفادار ملګري ولري، هغه به هېڅکله ځان یوازې احساس نه کړي. نو موږ باید هڅه وکړو چې د ښو، بااخلاقه او باایمانه خلکو ملګرتیا غوره کړو او خپله هم د نورو لپاره ښه او وفادار ملګري واوسو.

عبدالواسع سعادت

## د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت ...

پروان، کابل، فاریاب، پکتیا، کندز، زابل، تخار، بلخ، غزني او میدان وردګو ولایتونو کې ټولټال ۱۱۳ بابه مدرسې جوړې شوې دي.

۱۷- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ملک په ۱۳ ولایتونو ننګرهار، جوزجان، پروان، کندز، غور، هلمند، کندهار، غزني، کابل، بادغیس، بلخ، زابل او نورستان کې ټولټال ۴۲ بابه مدرسې د اسلامي تعلیماتو د معینیت له لوري د نوعیت له پلوه بدلې شوې دي.

۱۸- د ۱۴۰۵ هـ ل لومړۍ ربعې په بهیر کې د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ ویس قرني مدرسه په دارالحفاظ دار التجوید و القران او د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ تقوية الايمان مدرسه په الهاشمیه مدرسه په نومونو بدلې شوې دي.

۱۹- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ملک په ۱۵ ولایتونو غزني، هلمند، خوست، کندهار، زابل، بامیان، هرات، کابل، نورستان، بلخ، بادغیس، فراه، ارزګان، بغلان او غور کې ټولټال ۱۸۸ بابه مدرسې د اسلامي تعلیماتو د معینیت له لوري مدغمې شوې دي.

۲۰- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ امام ابوحنیفه رحمة الله علیه مدرسه د موجوده تشکیلاتو په ساتلو سره د دارالعلوم کچې ته ارتقا ورکړل شوې ده.

۲۱ – د ۱۴۰۵ هـ ل کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ملک په ۵ ولایتونو کې ټولټال ۵ بابه تعلیمي مرکزونه د اسلامي تعلیماتو د معینیت له لوري تجزیه شوي دي.

۲۲- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د وړتیاوو د ارزونې ریاست له لوري په کابل ښار کې ۷۴ خصوصي مدرسې ارزول او کنټرول شوې دي. همدارنګه ددې ریاست کارکوونکو د بغلان، سمنګان او بلخ ولایتونو په کچه ۸ بابه خصوصي مدرسې هم ارزولې او څارلې دي.

۲۳- د ۱۴۰۵هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ملک له بېلابېلو ولایتونو سره د ۶۴۳ فراغت سندونه چاپ او وېشل شوي دي.

۲۴- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د کابل ښار په څلورو دارالعلومونو کې د ۸۰ تنو استادانو علمي او مسلکي فعالیتونه ارزول شوي دي.

۲۵- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ولایتونو د مسلکي ودې د غړو له لوري ۲۵ دارالعلومونه او ۴۲۹ مدرسې څارل او ارزول شوي دي.

۲۶- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د تشکیلاتي اړتیاوو د رفع کولو په موخه ټولټال ۴۵۳ بستونه وېشل شوي دي له دې جملې څخه په ۲۹ ولایتونو کې ۳۸۹ مدرسو لپاره بستونه انتقال شوي دي.

همدارنګه د کابل ښار یوې مدرسې ته ۲ بستونه، د بامیان ولایت یو باب دارالعلوم ته ۱ بست او دبلخ، هلمند، بادغیس او فاریاب ولایتونو په ۴ بابه دارالحفاظونو کې ۴ بستونه د اسلامي تعلیماتو د معینیت له لوري وېشل شوي دي.

۲۷- د ۱۴۰۵ هـ ل مالي کال د لومړۍ ربعې په بهیر کې د ملک په ۲۳ ولایتونو کندهار، هلمند، پکتیکا، بادغیس، غور، سرپل، ارزګان، نیمروز، کاپیسا، پروان، کابل، فاریاب، پکتیا، کندز، زابل، تخار، بلخ، غزني، او میدان وردګو کې د ۱۱۳ بابو مدرسو د تأسیس په موخه ټولټال ۲۰۳ بستونه وېشل شوي دي.

همدارنګه د پروان، کابل، بادغیس، فاریاب او هلمند په ولایتونو کې د ۸ بابو دارالحفاظونو د تأسیس لپاره ۱۴ بستونه د اسلامي تعلیماتو د معینیت له لوري ځانګړي او وېشل شوي دي.

## د ګل احمد وزیری ...

ستون شو او د ثانوي زده کړو په ریاست کې د علمي غړي په توګه وګمارل شو، ورپسې له ۱۳۹۰ څخه تر ۱۳۹۸ کلونو پورې د نتایجو او شهادتنامو په ریاست کې د شهادتنامو د آمر په توګه دنده تر سره کړه او د لنډې مودې لپاره د همدې ریاست د سرپرست رئیس مسئولیت هم ور وسپارل شو.

د هغه تر مشرۍ لاندې د اسنادو تنظیم، رڼتیا او اداري همغږۍ د پام وړ ښه والی وموند، له ۱۳۹۸ څخه تر ۱۴۰۵ ل کلونو پورې د نتایجو او شهادتنامو د تطبیق کارپوه په توګه خپلو خدمتونو ته دوام ورکړ او خپله اوږده تجربه یې ددې اداري له ځوان نسل سره شریکه کړه.

وزیري صاحب د خپلې څلوېښت کلنې کاري مودې په اوږدو کې د پوره ایمانداری، اخلاص، رښتینولۍ او مسلکي ژمنتیا له مخې د یوه بریالي او درانه دولتي کارکوونکي په توګه وپېژندل شو، د ده د خدمتونو او کاري چوپړتیاوو د قدردانۍ په پار نوموړي ته په بېلابېلو وختونو کې د لومړي، دویمې او دریيمې درجې ستاینلیکونه او لوړ دولتي نښانونه ورکړل شوي دي.

دا دی نن د نتایجو او شهادتنامو ریاست مشرتابه مقام او همکاران د هغه هڅې او کړنې په درنښت یادوي او د الله تعالی له سپېڅلي دربار څخه ورته د ژوند په راتلونکو پړاوونو کې د بشپړې روغتیا، اوږد عمر او د لا ډېرو بریاوو دعا کوي.

## لنډ خبرونه

### کابل

د کابل ښار پوهنې ریاست، ملک ته له راستنو شویو ۴۵۰ تنو کډوالو ماشومانوڅخه د ښوونیزې سویې د تثبیت آزموینه واخیسته.

د کابل ښار پوهنې رئیس محترم مولوي حسیب‌الله صاحب‌زاده، د علم او زده‌کړې د ارزښت په اړه د هر اړخیزو خبرو ترڅنګ، له کډوالو وغوښتل چې د پوهنې وزارت له لوري د رامنځته شویو فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي.

### دایکندی

د دایکنډي ولایت د سیمه‌ییزو ښوونځیو ۱۳۲ تنو ښوونکو لپاره د مسلکي وړتیاوو لوړولو ۱۲ ورځنۍ روزنیزه برنامه، د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي شیرمحمد صدیقي په حضور کې پیل شوه.

### کونړ

د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو رئیس محترم مولوي سید موسی جان یاسین، د یوه رسمي سفر په ترځ کې کونړ ولایت ته لاړ او هلته یې د یاد ولایت له پوهنې مسئولینو سره په کتنه کې د ښوونې او روزنې د وضعیت، په مدارسو او ښوونځیو کې د تعلیمي وړتیاوو لوړولو او اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې.

### لوگر

کار ساخت دو صنف جدید درسی برای لیسه کتب‌خیل به هزینه ۲۰۰ هزار افغانی و یک صنف کمپیوتر برای لیسه ده نو به هزینه ۱۲۰ هزار افغانی از حمایت مالی باشنده گان محل آغاز شد. به گفته مسئولین ریاست معارف لوگر با تکمیل شدن کار ساخت آن ها برای صدها تن شاگردان این لیسه محیط مطمئن تعلیمی فراهم خواهد شد.

### غزنی

یک حلقه چاه آب آشامیدنی برای مکتب علی هجویری در ولسوالی اندر ولایت غزنی به هزینه ۸۰ هزار افغانی حفرشد که بیش از ۱۰۰ متر عمق داشته و به حمایت مالی مردم معارف‌دوست آماده استفاده شده است.

### پنجشیر

د پنجشېر ولایت درې ولسوالۍ اړوند د خواجه عبدالعزیز منځني ښوونځي زده‌کوونکو ته د یوه علم دوسته هېوادوال له لوري د لیک‌لوست وسایل او درسي توکي ووېشل شول.

د یاد ولایت پوهنې ریاست مسئولینو د هېوادوالو له مادي او معنوي ملاتړ څخه د منني ترڅنګ، له زده‌کوونکو وغوښتل چې له دغو توکو څخه د خپلو زده‌کړو په بهیر کې غوره او اغېزمنه ګټه واخلي.

### خوست

په خوست ولایت کې د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته د ۸۶ زره ۶۸۰ تنو زده‌کوونکو او ۳ زره ۴۸۲ تنو ښوونکو لپاره د قرطاسیې او درسي مرستندویه توکو وېش لړۍ پیل شوه.

په دغو مرستو کې د زده‌کوونکو او ښوونکو لپاره بکسونه، د پاکوالي توکي او نور درسي لوازم شامل دي.

### میدان‌وردګ

د میدان‌وردګ ولایت دایمیرداد ولسوالۍ اړوند بغلک منځني ښوونځي د نوي ودانۍ بنسټ ډبره د یادې ولسوالۍ پوهنې مسئولینو په حضور کې کېښودل شوه.

Marif
Weekly

کتنپلاوی:
شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مولوي حبیب الله «مؤذن»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا: محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر: ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 330 /2026

# د اسلامي زده کړو معین له یو شمېر مجویدینو او قاریانو سره مشورتي غونډه وکړه

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده، د تخصصي تجوید او د قرآنکریم د حسن‌قرائت د ودې په موخه له یو شمېر مجویدینو او قاریانو سره مشورتي غونډه ترسره کړه.

په دې غونډه کې د اسلامي زده کړو محترم معین د تجوید او قرائت د علم پر ارزښت خبرې وکړې او ویې ویل: د تخصصي تجوید او د قرآنکریم د ښه تلاوت د ودې په موخه د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو په معینیت کې ځانګړې مرجع رامنځته شوې، چې په ځانګړې ډول به د ملک په کچه د قاریانو او مجویدینو د تجوید او حسن‌قرائت د پیاوړتیا، روزنې او ملاتړ لپاره کار کوي.



نوموړي زیاته کړه تر اوسه په یاده برخه کې لازم کار نه دی ترسره شوی، نو اړینه ده چې دې برخې ته جدي پام وشي او د عملي ګامونو په اخیستو سره یې د ودې...

۲مخ

## افتتاح تعمیر جدید مبرز در یک باب مدرسه دینی در ولایت سرپل




ساختمان ۱۲ اطاقه مبرز در مدرسه امام مبلغ فرشقان کلان در مربوطات ولسوالی سانچارک ولایت فاریاب به هزینه مجموعی یک میلیون و ۲۰۰ هزار افغانی تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد.

محترم مولوی ضیاءالدین عباس آمر معارف ولسوالی سانچارک می‌گوید، این پروژه از سوی یکی از شخصیت های معارف‌دوست با همکاری باشنده گان محل تمویل و تطبیق گردیده است.

نامبرده از همکاری خیرین و باشندگان معارف‌دوست محل قدردانی نموده و می‌گوید که مشارکت مردم در حمایت از معارف، نقش مهمی در بهبود امکانات و توسعه زیربناهای آموزشی دارد.

ریاست معارف ولایت سرپل از همکاری خیرین و مردم محل در تطبیق این پروژه قدردانی نموده و آن را گامی مؤثر در راستای فراهم‌سازی محیط مناسب برای آموزش و پرورش شاگردان می‌داند.

## به ارزش بیش از ۴۱ میلیون افغانی مواد درسی برای مکاتب ولایت بامیان آغاز شد

توزیع قرطاسیه و مواد کمک درسی به تعداد مجموعی ۱۹۹۵بسته، به ارزش ۴۱ میلیون و ۲۱۷ هزار و ۹۵ افغانی برای شاگردان و معلمان مکاتب در ولایت بامیان آغاز شد که شامل بسته‌های مواد ممد درسی برای معلمان، قرطاسیه، بیک مکتب و سایر لوازم ضروری برای شاگردان و بسته‌های اداری برای مکاتب بوده که از سوی یک نهاد همکار با معارف با ریاست معارف ولایت بامیان مساعدت شده است.

## د فاریاب ولایت ښوونځیو ته د ۹۰ میلیونه افغانیو په ارزښت درسي مرستندویه توکي ووېشل شول

د فاریاب ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې په یاد ولایت کې د یوه همکار بنسټ په مرسته د ښوونځیو زده‌کوونکو او ښوونکو ته د څه باندې ۹۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ټولټال ۱۵ زره او ۷۷۸ کڅوړې قرطاسیه او درسي مرستندویه توکي ووېشل شول.

د پوهنې ریاست مسئولین وایي، په دغو مرستو کې د ښوونکو لپاره ۵ زره او ۹۲ کڅوړې درسي مرستندویه توکي، د زده‌کوونکو لپاره ۱۰ زره او ۱۸۴ کڅوړې قرطاسیه، بکسونه او نور اړین توکي او همدارنګه د ښوونځیو لپاره ۵۰۲ اداري کڅوړې شاملې دي چې د پوهنې ریاست له لوري په منظم ډول د دغه ولایت پر ښوونکو او زده‌کوونکو ووېشل شول.



## د ګل احمد وزیري ژوند لیک

الحاج ګل احمد وزیري د زربعید زوی په ۱۳۳۸ هجري لمریز کال کې پکتیکا ولایت د برمل ولسوالی په یوه دینداره کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې د کورنۍ دیني چاپېریال، ساده ژوند او کلیوال ارزښتونو د هغه په شخصیت کې د رېښتینولۍ، اخلاص او ولسپالنې بذرونه وکرل.

وزیري صاحب خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په پوره زیار سره پیل او ثانوي زده کړې یې په خوشحال خان عالي لیسه په ۱۳۵۷ کال کې په بریالیتوب سره پای ته رسولې دي، نوموړي له ۱۳۵۸ څخه تر ۱۳۶۴ کلونو پورې په اوکراین ملک کې لوړې زده کړې کړې دي او په ښوونه او روزنه کې یې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ، خو د ملک د علمي او روزنیز بهیر لپاره اغېزمن خدمت وکړي.

د وزیري صاحب رسمي کاري ژوند په ۱۳۶۴ کال کې پیل شو، له همدې کال څخه تر ۱۳۷۰ ل کال پورې یې د افغانستان د وخت حکومت د چارو ادارې په بېلابېلو اداري او مسلکي برخو کې دندې تر سره کړې او وروسته له هغې له ۱۳۷۰ څخه تر ۱۳۷۲ کلونو پورې د خوشحال خان لیسې د آمر په توګه وټاکل شو، نوموړي د ښوونځي اداري او تدریسي بهیر ته نوی رنګ ورکړ او د زده کوونکو د علمي ودې لپاره یې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې وکړې.

خو د ملک ناامني او تنظیمي جګړو د زرګونو افغانانو په څېر دده پر ژوند هم اغېز وکړ او له ۱۳۷۲ څخه تر ۱۳۸۳ کلونو پورې اړ شو چې د مهاجرت سختې شپې او ورځې په پاکستان هېواد کې تېر کړي.

ملک ته له ستنېدو وروسته، وزیري صاحب په ۱۳۸۳ل کال کې د پوهنې وزارت اړوند د ثانوي تدریساتو په ریاست کې د علمي غړي په توګه خپله دنده پیل کړه، د هغه تجربه، پوهه او اداري وړتیاوو ژر خپل اغېز وښود، له ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۸۷ کلونو پورې نوموړي د دوهم ځل لپاره د خوشحال خان لیسې د آمر په توګه وټاکل شو، چې دا د ده پر وړتیاوو د باور څرګند ثبوت وو، نوموړي د ښوونځي نظم، تعلیمي کیفیت او اداري سمون لپاره رغنده ګامونه پورته کړل.

وروسته له ۱۳۸۸ څخه تر ۱۳۸۹ پورې هغه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت اړوند د اسنادو او اړیکو په ریاست کې د سلاکار په توګه دنده تر سره کړه او د پالیسي او اداري همغږۍ په برخه کې یې اغېزمنې او ارزښتناکه کړنې تر سره کړې.

په کال ۱۳۸۹ ل کې د وزیري صاحب بېرته د پوهنې وزارت کاري چوکاټ ته...

۳مخ

**معارف، بنیاد استوار شکوفایی ملت و مشعل فروزان دانایی است که با پرورش نسل‌های آگاه، متعهد و توانمند راه پیشرفت و خودکفایی را برای جامعه هموار می‌سازد.**